د مشکوٰۃ المصابیح مقدمہ

حدیث لغةً:

حدیث پہ لغت کښی ضد د قدیم دے،اشاره ده دی خبری ته چی احادیث د کلام الله پشان قدیم ندی ۔

یا حدیث ته حدیث ځکه وائی چی الله پاک نبی ﷺ ته حکم کړے دے وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّکَ فَحَدِّثْ د تحدیث نه دے اظهار او بیانولو پہ معنیٰ سره را ځی۔

حدیث اصطلاحًا:

اصطلاحًا علم حدیث پہ دوه قسمه دے علم حدیث روایةً او علم حدیث درایةً۔

تعریف د علم حدیث روایةً:

علمٌ یشتمل علیٰ احوال النبی ﷺ قولاً وفعلاً وتقریرًا وَ صفةً خُلقیةً کانتْ او خِلقیةً

خُلقی معنیٰ د نبیﷺ اخلاق او خِلقی معنیٰ د بنیﷺ صفات لکہ:د نبیﷺ د ویختو مبارکو صفات د نبیﷺ د سترگو مبارکو صفات۔

موضوع د علم الحدیث روایةً:

ذات د نبیﷺ من حیث انہﷺ نبیٌّ دی سره تری موضوع د طب خارج شوه چی هغہ د ذات د نبیﷺ نہ خبره کوی من حیث انہ انسانٌ۔

غرض د علم الحدیث رویةً:

معرفةُ کیفیةِ الاقتداء بالنبیِّﷺ۔

تعریف د علم حدیث روایةً:

ما یُبحث فیہ عن احوال المتنِ والسندِ۔

متن منتھیٰ د سند تہ وائی ،او سند ھغے رجالو تہ وائی کوم چی راویان د حدیث وی،او اسناد د ھغے رجالو ذکر کولو تہ وائی۔